مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۵/۱۱/۰۵

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## دوه‌ویشتمه‌برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۴۶مه برخه

**د ماښامي تیارې خورې شوې**
**څوک په وربښمو، څوک په کانبو ږدي سرونه**

**زما قاتل لالا ته وایه**
**ته خو راخلاص شوې، زه بندي د عمر شومه**

**دا زه چې ژاړم، چا ته ژاړم**
**د غره پر کانبو باران څه اثر کوینه**

**په ما دې نیمې زده کړې پرېښنوې**
**له تا دې ژوند په نیمايي کې پاتې شینه**

دا څویم ځل دی چې عزیز نائیبي له ماسره د لنډیو د راټولولو په برخه کې مرسته کوي، هرچېرې چې نوې لنډۍ واوري یایي ولولي، خوندي کوي یې او بیا یې ماته رالېږي چې زه یې په مننې سره نوې لنډۍ ورنه راخلم. دا ځل یې بیا ګڼشمېر لنډۍ رالېږلي دي چې بیا، بیا مننه ورنه کوم. د دېځل لنډۍ رالېږلو په ترڅ کې د مننې په دود زما او ده ترمنځ دا پیامونه هم تبادله شول:

آصف بهاند:

نائیبي صاحب لکه تل مو د لنډیو د راټولو په پروسه کې فعاله ونډه اخیستې ده، له دایمي فرهنګي مرستو نه مو نړۍ مننه.❤️

عزیز نائیبي:

قدرمن استاده سلامونه ارادت!

تاسو ته ښه معلوم دی چې د ولسيادبیاتو په دې صنف کې چې څومره پاخه نظریات او افکار په دوه لنډوو بیتونو کې انعکاس موندلی دی، ګمان نه کوم چې بل سیال او ساری ولري. کمیک، رومانتیک او تراژید چې زه یې مالګین، خواږه او ترخه بولم؛ ټول په‌کې سرې موندلی شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

استاده! له تاسو سره د فرهنګي همکارۍ وجوهات زيات دي؛ يو له هغو څخه له ولسي ادبياتو سره زما خپله علاقه‌مندي دی - تاسو په دې برخه کې نه ستړی کېدونکی او پوخ کار کوئ.

روغتيا او سلامتي مو غواړم.

درنښت

دا هم د د عزيز نائيبي له خوا نويو رالېږلو لنډيو ځوبلګې:

**پر هديرې کوترې ګرځي**
**بورې ادې به پرې غنم شيندلي وينه**

**زما به هلته ارمان درشي**
**چې مې په قبر بېلچې ګډېوډې ځينه**

**د ماښامي تيارې خورې شوې**
**څوک په ورېښمو، څوک په کانو ږدي سرونه**

**زما قاتل لالا ته وايه**
**ته خو راخلاص شوې، زه بندي د عمر شومه**

**سترګې دې وې، وتلي نه وې**
**وړې جينۍ په بنې چا ورکړي دينه**

**يا خو به زه په زړه نرۍ يم**
**يا په ريښتيا له زغمه وتي دي غمونه**

**پام په ورکړې مئېن نه شي**
**سبا بې سره لاسونه بل درځني وړينه**

**دا زه چې ژاړم، چا ته ژاړم**
**د غره پر کانو باران څه اثر کوينه**

**خلک به وايي چې ياران دي**
**جانان په ما پسې ټوپکي ګرځوينه**

**ياري د سلوکالو کار دی**
**څوک يې چې لنډه پرې کوي، دووس به وينه**

**ما له ښتک په لاس کې راکړئ**
**زه پرې دله جانان په پوندوو ټکومه**

**تا چې کوڅه کې توخی وکړ**
**زه په مستو ککره خوله دروونمه**

**په زړه سورۍ ترې ببرته راغلم**
**د جانان سپين مخ يې قبلې ته واړونه**

**چېرته د يار ځواني نازکه**
**چېرته د ګور په تورو خاورو کې خوبونه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

**که دې د سر تبې ټکيـږي**
**پوه شه چې قبر ته دې زه ولاړه يمه**

**په مرگ ویده لالی يې ښکُل کړ**
**سر ته يې ټک ورکړو چې زه به څه کومه**

**په نيمه شپه مې زړه ته راغلې**
**په غاښ مې وچيچل د صبر تعويذونه**

**د بې وسۍ باران وريـږي**
**د اميدونو چترۍ ستنې ماتوينه**

**په ما دې نيمې زده کړې پرېښوې**
**له تا دې ژوند په نيمايي کې پاتې شينه**

**چې ورور دې نه وي، زور دې نه وي**
**چې مور دې نه وي، کور دې لوټې ـ لوټې وينه**

**ته رانه هار د زرو غواړې**
**زه د کرکنو په اغزو گرېوان گندمه**

**کېدای شي هلته رانه هېر شې**
**چې په سينه مې غنې واچوي جالونه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ